❖❖❖

# د قوشتېپې کانال او په آمو سيند کې د افغانستان حقابه

اکرام‌الدين کامل *

**لنډيز**

دا څېړنيزه مقاله د قوشتيپې کانال د نړيوالو حقوقو له نظره څېړي. د قوشتېپې کانال د بلخ په کلدار ولسوالۍ کې له آمو سيند څخه اوبه اخلي. آمو سيند د افغانستان او مرکزي آسيا جمهوريتونو ترمنځ مشترک سيند دی چې د يو شمېر دوه اړخيزو او څو اړخيزو معاهداتو له لارې يې اوبه تنظيم او مديريت شوې دي. افغانستان د آمو پر سيند له روسيې/شوروي اتحاد سره يوازې سرحدي معاهدې لاسليک کړې دي چې د اوبو د وېش موضوع په‌کې نه ده مطرح شوې. بل لوري ته د مرکزي آسيا هېوادونو بيا د آمو پر سيند د اوبو د وېش معاهدې لاسليک کړې، چې افغانستان يې غړيتوب نه لري. د يوه مشخص حقوقي چوکاټ د نه شتون له کبله د قوشتېپې کانال د ابتدايي رغنيزو چارو پيلولو د مرکزي آسيا په ځانګړې ډول ښکته ازبکستان او ترکمنستان اندېښمن کړي، چې ممکن د کانال په جوړېدو سره دغو هېوادونو ته د اوبو د ورتګ جريان اغېزمن شي. دغه مقاله د دکترينال انتقادي تحليل له ميتود او له اوليه او ثانوي منابعو څخه پر استفادې استدلال کوي چې افغانستان د آمو په سيند کې د معقولې او عادلانه استفادې حق لري او د قوشتېپې کانال د افغانستان دغه حق تضمينوي. همدا راز افغانستان د قوشتېپې کانال په جوړولو سره خپله تاريخي حقابه چې د څو لسيزو راهيسې يې نه ده استفاده کړې بيا احياء کوي. دا څېړنه په نهايت کې وړانديز کوي چې يوازې د قوشتېپې پر کانال او په انفرادي ډول له مرکزي آسيا له هېوادونو سره بحث او مذاکرات موضوع نه حل و فصل کوي، له همدې کبله د پايداره او دايمي حل لپاره اړتيا ده چې افغانستان په آمو سيند کې د خپلې حقابې په اړه د مرکزي آسيا له ټولو هېوادونو سره په مشترک ډول مذاکرات وکړي.

**کليدي کلمات:** آمو سيند، قوشتېپې کانال، د اوبو نړيوال حقوق، معقوله او عادلانه استفاده، ضرر نه رسول، اينده حقابې بندول.

---

*د جنوبي اسيا پوهنتون (SAU) د نړيوالو حقوقو په پوهنځي کې د دکتورا کانديد دی.

**۱. مقدمه**

د ۲۰۲۳ز کال په مارچ میاشت کې د ازبکستان یوه لوړپوړي پلاوي کابل ته سفر وکړ. په دغه سفر کې پر نورو موضوعاتو سربېره ازبک لوري غوښتنه وکړه چې افغانستان ورسره د آمو سیند د مدیریت او په ځانګړي ډول د قوشتېپې پر کانال خبرې اترې وکړي. ازبک پلاوي وړاندیز وکړ چې هېواد به یې د یاد کانال په رغونه کې له افغانستان سره تخنیکي مرستې وکړي (FDPM Afghanistan, 2023). ازبکستان که څه هم صراحتاً د دغه کانال د جوړېدو مخالفت ونه کړ؛ خو ضمناً یې نظر دا و چې اوسنی ډیزاین ممکن د دوی حقوقي ساتل شوې استفادې ته ضرر ورسوي. تر هغه وړاندې ترکمنستان هم خپلې اندېښنې له بهرنیو چارو وزارت سره شریکې کړې وې او غوښتنه یې کړې وه چې د دواړو لوریو تخنیکي پلاوي غونډه وکړي او په یوه حقوقي سند دې بحث وکړي.

د قوشتېپې کانال شاوخوا دوه کاله وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملاعبدالغني برادر پرانیست. یاد کانال د افغانستان په کچه د اوبو رسولو تر ټولو لویه پروژه ده چې ټولټال اوږدوالی یې ۲۸۵ کیلومترو ته رسېږي. د افغانستان د دولتي سرچینو د راپورونو له مخې، د دغې پروژې ټولې چارې به د شپږو کلونو په موده کې په دریو فازونو کې پای ته ورسېږي او د اټکل له مخې تر ۵۵۰ زره هکتاره زیاته ځمکه به ترې خړوبه شي. د کانال لاندېنی پلنوالی ۸۵ مترو ته رسېږي او پورتنی هغه یې ۱۵۲ متره کېږي. کانال د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو له ګڼو ولسوالیو څخه تېرېږي (Bakyt Ibraimov, 2023). د قوشتېپې کانال د آمو له سیند څخه د بلخ ولایت په کلدار ولسوالۍ کې اوبه اخلي. په دې سیمه کې د آمو سیند د افغانستان او تاجکستان تر منځ سرحد تشکیلوي، چې ازبکستان او ترکمنستان هېوادونه ترې ښکته پراته دي.

د قوشتېپې کانال د جوړېدو اعلان او د چارو پیلېدو د افغانستان شمال ګاونډیان په ځانګړي ډول ازبکستان او ترکمنستان چې د آمو سیند پر اوبو یې تکیه زیاته ده، خورا اندېښمن کړي دي. د ازبکستان جمهور رئیس شوکت میرضیایف ملت ته په وینا کې وویل، چې غواړي له افغانستان سره د دغه کانال په تړاو خبرې وکړي(Rickleton, 2023). دې سره هممهاله د ازبکستان حکومت په داخل کې هم د نویو کرنیزو او اوبو لګونې اړوند پالیسیو تطبیق لپاره لاس په کار شوی ترڅو د آمو سیند د اوبو ممکنه کمېدو لپاره ځان آماده کړي (Ilkhamov, 2023).

دا چې افغانستان د آمو په سیندیزه حوزه کې خپلې اوبیزې زېربناوې جوړوي یا پراختیا ورکوي، د آمو په سیندیزه حوزه کې د قوشتېپې کانال په څېر د پروژو د تطبیق یو شمېر حقوقي پوښتنې راپورته کوي. په دې مقاله کې مشخصاً د آمو په سیندیزه حوزه کې د زېربنایي پروژو د تطبیق په برخه کې د افغانستان د حق په اړه د نړیوالو حقوقو په رڼا کې بحث کېږي.

دا مقاله عمدتاً د دکترینال انتقادي تحلیل میتود څخه استفاده کوي او د آمو په سیندیزه حوزه کې د شوروي اتحاد د اوبو مدیریت تشریح کوي. مقاله د پخوانیو اولي او ثانوي منابعو څخه استفاده کوي او پر هغو لاملونو رڼا اچوي چې له کبله یې افغانستان د آمو سیندیزه حوزه کې د اوبو د مدیریت له سیمه‌ییز حقوقي چوکاټ څخه ایستل شوی دی. پر دې سربېره مقاله د "Black Letter" میتودلوژیکي اپروچ څخه استفاده کوي چې له مخې یې تمرکز د آمو سیند اړوند معاهداتو او د سیندونو اړوند کنوانسیونونو پر متونو او نړیوالو حقوقي قضایاو باندې دی. په همدې موخه دا مقاله اجمالا حقوقي مسایل تشخیصوي، حقوقي منابع راټولوي او د قوشتېپې کانال په کانټکسټ کې یې انتقادي تحلیل کوي. همدا راز د آمو پر سیند موجود حقوقي رژیم څېړي او په پای کې د نړیوالو حقوقو د عرفي اصولو په رڼا کې د آمو په سیندیزه حوزه کې د افغانستان پر حقابې بحث کوي.

دا مقاله له سریزې راوروسته د آمو سیند پر هایدرولوژۍ بحث کوي؛ ورپسې له شوروي اتحاد څخه مرکزي آسیا هېوادونو ته په میراث پاتې د اوبو مدیریت باندې رڼا اچوي او هغه لاملونه څېړي چې د آمو پر سیند له حاکم حقوقي رژیم څخه د افغانستان د پرېښودو لامل شول؛ ورپسې برخه د آمو پر سیند حقوقي رژیم څېړي؛ پنځمه برخه هم د قوشتېپې کانال د نړیوالو حقوقو په رڼا کې څېړي او وروستۍ برخه هم پایلې او د پالیسۍ اړوند وړاندیزونه دي.

## ۲. د آمو سیند هایدرلوژي

د آمو سیند (اکسوس/جیحون هم بلل کېږي) د مرکزي آسیا تر ټولو اوږد سیند دی (Salehie, et al., 2022). دغه سیند د پامیر په لوړو کې له هندوکش او واخان څخه سرچینه اخلي، ۲۵۴۰ کیلومتره مزل کوي او د مرکزي آسیا آرال بحیرې ته بهېږي (Ahmad & Wasiq, 2004). د سیند پاسنۍ برخه (وروسته له هغه چې واخان او پامیر سیندونه سره یوځای کېږي) د زرقول له جهیل

څخه سرچینه اخلي چې پنج دریا یې بولي. کله چې پنج له وخش سیند سره یوځای شي، نو د آمو سیند ترې جوړیږي (Ahmad & Wasiq, 2004). آمو د افغانستان او د شمال ګاونډیو تر منځ ۱۸۰۰ کیلومتره سرحد تشکیلوي، چې له زرقول څخه دغه اوبیز سرحد پیلیږي او په خماب کې پای مومي. لوی معاونین یې پامیر، واخان، شیوا، کوکچه، کندوز، وخش، کفیرنګان، سرخان دریا او شیراباد دریا دي. پنج یا پاینداز او وخش سیندونه بیا د آمو تر ټولو لوی مرستیال سیندونه دي (فهیم, ۲۰۱۷). پورته ذکر شوي سیندونه ټول غرني معاون سیندونه  دي، او آمو سیند په ۱۲۰۰کیلومتره هواره کې هیڅ کوم د پام وړ معاون سیند نه لري (Ahmad & Wasiq, 2004). د آمو سیند د اوبو د واقعي او کلني ظرفیت په اړه واحد ارقام نشته، البته اوړمهاله کلنی ظرفیت له ۴۹ میلیارد متر مکعب څخه نیولې تر ۱۰۸ میلیارد متر مکعب پورې د بدلون او نوسان په حال کې دی. په هغو کلونو کې چې د اوبو جریان خورا زیات وي د جریان کچه یې ۱۰۸ میلیارده متر مکعبه ته لوړیږي او د وچکالیو یا لږو اوبو په کلونو کې دا کچه ۴۷ میلیارده متر مکعبه ته راښکته کیږي. د سیند ابریزه (catchment area) ۳۰۹۰۰۰ کیلومتر مربع ده (Wegerich K. , Hydro-hegemony in the Amu Darya Basin, 2008). د هغو اوبو مقدار چې د افغانستان له خاورې له آمو سیند سره یوځای کیږي په کلني ډول ۲۲-۲۷ میلیارد مترمکعب دی چې د پنج، کوکچې او کندوز سیندونو له لارې له آمو سیند سره یوځای کیږي (اوبو او انرژۍ وزارت، ۱۴۰۲).

آمو سیند د افغانستان او سیمې لپاره د اوبو تر ټولو مؤلده او ګټوره سرچینه ده. اټکل دا دی چې آمو سیند ټولټال شپږ میلیونه هکتاره ځمکه خړوبوي. دا سیند په افغانستان کې ۱٬۵میلیونه هکتاره ځمکه خړوبوي (Horsman, 2008). ازبکستان د اوبولو بیا تر ټولو پراخه ځمکه لري (۲٬۳ میلیونه هکټاره) او بیا وروسته ترکمنستان دی، چې له آمو سیند څخه د ۱٬۷ میلیون هکټاره ځمکې د خړوبولو لپاره ګټه پورته کوي. د آمو سیند په تاجکستان کې د ۰٬۵ میلیونه هکتاره ځمکې د خړوبولو او په قرغزستان کې یوازې د ۰٬۱ میلیونه هکټاره ځمکې د خړوبولو لپاره کارول کیږي (Ahmad & Wasiq, 2004).

د آمو سیند د اوبو مدیریت له شوروي اتحاد څخه پاتې میراث دی. د دغه سیند اوبو مدیریت د شوروي اتحاد پر مهال شوی چې وروسته مرکزي آسیا هم د شوروي لخوا جوړ شوی سیستم

تصویب کړ. لاندې برخه د شوروي اتحاد د اوبو مدیریت په اړه بحث کوي او بیا پر هغو دلایلو رڼا اچوي چې ولې شوروي اتحاد او تر هغه وروسته مرکزي آسیا جمهوریتونو افغانستان د آمو سیند د اوبو د وېش په اړه له حقوقي او سازماني رژیمونو څخه وایست.

### ۳. له شوروي اتحاد د اوبو مدیریت پاتې میراث

شوروي اتحاد له ۱۹۶۰مو کلونو راهیسې د آمو او سیر سیندونو څخه د استفادې لپاره مشخص رژیم وضع کړی و (Micklin, 1988) . دغه رژیم چې د پنبې تولید ته په کې لومړیتوب ورکړل شوی و، د دې سبب شو چې د آرال بحیرې ته د اوبو ورتګ په بې‌سارې توګه کم شي (Environmental Justice Foundation, 2005). آرال بحیره په ۱۹۵۰مو کلونو کې د نړۍ په کچه په وچه کې راګیره څلورمه لویه بحیره وه، چې ۱،۰۹۰ کیلومتره مکعب اوبه یې لرلې او ۶۶،۰۰۰ کیلومتره مربع ځمکه یې پوښلې وه (Whish-Wilson, 2002). د ارال بحیرې په اړه ترسره شوې څېړنې ښیي، چې د آمو او سیر سیندونو نېږدې نیمایي اوبه آرال بحیرې ته بهېدلې، چې د دې بحیرې ثبات پرې ساتل شوی. خو د څلورو لسیزو په موده کې، د آرال بحیره پر یوه ستر ایکولوژیکي او ټولنیز اقتصادي ناورین واوښته (Glantz, 1999). د دې لوی چاپېریالي او ایکولوژیکي ناورین لامل د اوبو په اړه د پخواني شوروي اتحاد سیاستونه وو، چې په شاړو ځمکو کې د پنبې د تولید د پراختیا په موخه یې د آمو او سیر سیندونو اوبه له دغې بحیرې منحرفې کړې (Environmental Justice Foundation, 2005) .

د آمو او سیر سیندونو اوبه تر ډېره د کرنې لپاره کارېږي، په ۱۹۷۰یمو کلونو کې، شوروي اتحاد یوازې د آمو سیندیزه حوزه کې د اوبولو سیمه ۱۵۰ سلنه پراخه کړه (Julia , et al., 2003). د اوبو لګونې دا سیمې په وروستیو لسیزو کې نورې هم پراخې شوې دي (Behzod, Su, & Dilmurod, 2012). شوروي اتحاد پر دې باور و، چې د آرال په بحیره کې د کرنې او ژویو پالنې ګټه په سیمه کې د ژوند چاپېریالیزې ویجاړتیا له اغېزو څخه مهمه ده او لومړیتوب لري (Wegerich K. , The New Great Game: Water Allocation in Post-Soviet Central Asia, 2009) له همدې کبله، د شوروي اتحاد چارواکو د کرنې داسې پالیسۍ تطبیق کړې، چې د پنبې تولید پکې هڅول شوی و. د هغوی مسلسله تقاضا همدا وه چې په هره بیه کېږي د پنې،

یا «سپینې طلا» تولید دې ډېر شي (O'Hara , 2000). دوی په ۱۹۷۵ کې د اوبولو سیمه ۷'۲ میلیونه هکتاره او په ۱۹۸۹کې ۹'۴ میلیونه هکتاره ته پراخه کړه ( Wegerich K. , The New Great Game: Water Allocation in Post-Soviet Central Asia, 2009). د منځنۍ آسیا جمهوریتونه، په ځانګړي ډول ازبکستان، د پنبې د تولید ستر تولیدونکي شول، که څه هم دغه هېواد خورا کمه پنبه پروسس کوله او د محصول زیاته ونډه به د شوروي اتحاد مرکزي او ختیځو برخو ته لېږدول کېده، چې هلته بیا د ټوکر جوړولو په صنایعو کې کارېده (Spoor & Krutov, 2003).

پر دې هوکړه شوې وه، چې د ښکته پرتو دولتونو په توګه به ترکمنستان او ازبکستان پنبه تولیدوي او د پاسني پراته دولت په توګه به تاجکستان له اوبو څخه د انرژۍ د تولید په موخه کار اخلي (Wegerich K. , Hydro-hegemony in the Amu Darya Basin, 2008). افغانستان او قرغزستان ته یوازې د اوبو تولیدوونکو داسې هېوادونو په سترګه کتل کېدل، چې د اوبو واقعي حقونه یې نه لرل (Wegerich K. , Hydro-hegemony in the Amu Darya Basin, 2008). د اوبو کومې زېرمې چې په قرغزستان کې جوړې شوې وې، موخه یې ښکتني ازبکستان او قزاقستان ته اوبه ورکول وو، ترڅو خپل زراعت ته پراختیا ورکړي. د دغه بین الدولتي ترتیب له مخې د قزاقستان مسوولیت په دغه هېواد کې د موجودو زېرمو ساتنه وه، چې په بدل کې به یې له ښکته ازبکستان او قزاقستان څخه طبیعي ګاز، سکاره او تېل ترلاسه کول. تر ۱۹۹۱ز کال پورې قزاقستان له دې کبله چې د توکتوګل له برېښنا تولید سټیشن څخه یې استفاده نه کوله، په بدل کې یو میلیارد متر مکعب طبیعي ګاز، یو میلیون ټن سکاره او ۴ لکه ټنه تېل ترلاسه کول. پر دې سربېره، شوروي اتحاد شاوخوا ٦۰۰ میلیونه امریکایي ډالر د دغه هېواد له بودیجې سره مرسته کوله ترڅو د اوبیزو زېربناوو حفظ او مراقبت وکړي او هم عمومي ټولنیزې او اقتصادي اړتیاوې پرې پوره کړي (Kemelova & Zhalkubaev, 2003). شوروي اتحاد د خپل کمزوري ګاونډي، افغانستان، پر وړاندې د اوبو هژموني (hydro-hegemony) ساتلې وه؛ او افغانستان ته یې د ۱۹۸۷ کال په هغو ناستو کې د ګډون اجازه ورنکړه، چې د څلورو شوروي جمهوریتونو لپاره یې په آمو سیند کې سهمیې تعییني کړې ( Wegerich K. , Hydro-hegemony in the Amu Darya Basin, 2008). د ۱۹۸۷ د غونډو پایله دا شوه، چې د شوروي اتحاد داوبو سرچېنو

وزارت علمي او تخنيکي شورا د ۵۶۶ پروټوکول تصويب کړ. دې پروټوکول د منځنۍ آسيا د جمهوريتونو د اوبو سهمونه مشخص کړل او د سيند حوزې سازمان ( Basseynoe Vodnoe Ob'edinenie, BVO) د سهمونو د مديريت او انفاذ په موخه ايجاد شو. د ۵۶۶ پروټوکول پر اساس د آمو سيند جريان ۸۲,۲ ميلیارده متر مکعب ونيول شو، چې له منځه يې ۷۴,۰۷ ميلیارده مترمکعب اوبه دغو هېوادونو ته لاس ته ورتللې. دغه اندازه وروسته له هغه تعيين شوه، چې د افغانستان له خوا د اوبو ۲,۱ ميليارد انحراف او ځومره اوبه چې د سيند د بستر لپاره مهمې دي، هم په نظر کې ونيول شوې. ۶۱,۵ ميليارده متر مکعب اوبه د مرکزي آسيا د جمهوريتونو تر منځ په لاندې ډول ووېشل شوې او يو څه اندازه اوبه د آرال بحيرې حقابې په نوم تعيين شوې.

| **د ۵۶۶ پرتوکول پر اساس د آمو په سيند کې د اوبو وېش** | | |
|---|---|---|
| **هېواد** | **د اوبو سهم (ميليارد متر مکعب)** | **سلنه** |
| ازبکستان | ۲۹,۶۰ | ۴۸,۲۰ |
| ترکمنستان | ۲۲,۰ | ۳۵,۸ |
| تاجکستان | ۹,۵۰ | ۱۵,۸ |
| قيرغزستان | ۰,۴۰ | ۰,۶ |
| مجموعه | ۶۱,۵۰ | ۱۰۰,۰۰ |

*سرچينه: ۵۶۶ پرتوکول*

په ۱۹۹۱ز کال کې د شوروي اتحاد له ړنګېدو سره سم، په ۱۹۹۲ کې د منځنۍ آسيا پنځو جمهوريتونو (قزاقستان، قزغزستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان) د آلماتي هوکړه‌ليک لاسليک کړ، چې له مخې يې د ۵۶۶ پروتوکول لخوا مشخص او د اوبو د تخصيص د مديريت په موخه يې د منځنۍ آسيا د اوبو همغږۍ بين الدولتي کميسيون (ICWC) جوړ کړ. د پورته پروت هېواد په توګه، افغانستان د آلماتی هوکړه‌ليک يا د منځنۍ آسيا د اوبو همغږۍ بين الدولتي کميسيون غړی نه و. دا چې افغانستان ولې د مرکزي آسيا د اوبو د مديريت له حقوقي رژيم څخه ايستل شوی و، په لاندې برخه کې يې مشخص لاملونه ذکر شوي دي.

**۱-۳- ولې افغانستان د اوبو د مدیریت له جوړښتونو وایستل شو؟**

د آمو سیند د اوبو مدیریت له جوړښتونو څخه د افغانستان د باندې پرېښودل ګڼ لاملونه لري. لومړی یې له آمو سیند څخه د استفادې په اړه د افغانستان واقعي وضعیت دی. د نړیوال بانک د ۲۰۰۳ز کال مطالعات ښیي، چې افغانستان کولای شي له آمو سیند څخه خړوبېدونکې ځمکه یوازې تر ۲۰ سلنه پورې پراخه کړي، او د دې موخې لپاره افغانستان د دغه سیند یوازې له ۵ تر ٦ میلیارده متر مکعب اوبو ته انحراف ورکولای شي؛ چې دغه هدف ته رسېدل هم ښایي دوې لسیزې وخت ونیسي (Horsman, 2008) (Ahmad & Wasiq, 2004). د نړیوال بانک دا څېړنه تر دغه حده واقعي وه، چې افغانستان د ۲۰ کلونو په تېرېدو سره هم دغه هدف ته لا نه دی رسېدلی. دا چې افغانستان د اوبو استفاده د شوروي اتحاد تر ماتېدو وروسته دومره نه زیاتېدله چې له کبله یې مرکزي آسیا هېوادونه ترې اغېزمن شوي وی، نو مرکزي آسیا هېوادونو افغانستان ته د اوبو د مدیریت په برخه کې د یو رقیب په سترګه نه کتل او لازمه یې نه ګڼله چې له دغه هېواد سره یوې هوکړې ته ورسېږي.

دوهم اساسي لامل د افغانستان داخلي وضعیت و، چې له ګاونډیانو سره یې پر اړیکو ژور اغېز درلود. افغانستان کې تر څلورو لسیزو راهیسې بې‌ثباتي او جګړې د دې لامل شوې دي، چې له ګاونډیو هېوادونو سره یې د اوبو مدیریت په برخه کې هېڅ ډول همکاریو ته چمتووالی نه درلود. په خپله د افغانستان لومړیتوبونه هم نور وو او د اوبو د وېش موضوع تر هغه نه مطرح کېده، چې د افغانستان د اوبو په استفاده کې د پام وړ زیاتوالی نه وی راغلی. پر دې سربېره، د افغانستان تخنیکي ظرفیت د نشت برابر و او په دغسې وضعیت کې، چې په داخل کې د مذاکرې لپاره لازم تخنیکي ظرفیت موجود نه وي، مذاکره تر ګټې تاوان زیات کوي. نو که له یوې خوا مرکزي آسیا له یوه بې‌ثباته هېواد سره په دې برخه کې همکاریو ته چمتو نه وه، له بلې خوا افغانستان ته هم دغې موضوع لومړیتوب نه درلود. دغه دوه لاملونه د دې سبب شول چې افغانستان له مرکزي آسیا سره د اوبو د مدیریت د رژیم برخه نه شي. د سیاسي علومو پوهان وایي، چې سیاسي شرایط د بین الدولتي مسایلو د مدیریت لپاره خورا مهم دي او که سیاسي بې‌ثباتي موجوده وي هېوادونه بین الدول هوکړه‌لیکونو او تعهداتو ته تر ډېر اماده نه وي (Gleick, 1993).

دربیم لامل په آمو سیندیزه حوزه کې د ذینفع اړخونو خپلمنځي همکاري ده. د مرکزي آسیا هېوادونه په خپلو منځونو کې د سیمه‌ییزې همکارۍ په ښه کولو کې یو ډول ارزښتونه او گټې نه لري. دوی د اوبو زېرمو د مدیریت لپاره یواړخیز گامونه پورته کوي او ملي قوانین یې اوبه د یوې ملي شتمنۍ په توگه تعریفوي، تر دې چې عامه یا گډ توکی یې وبولي. اوبه د یوې ملي شتمنۍ په توگه تعریفول پر دې معنا دي، چې دغه هېوادونه د اوبو د وېش او بیا یې مشترک مدیریت لپاره لازمو همکاریو ته اماده نه دي. د آمو پر سیند د مرکزي آسیا هېوادونو له حقوقي رژیم څخه د افغانستان د باندې پرېښودل هم ښيي چې په خپله دغه هېوادونه د آلماتي هوکړه‌لیک او نورو هغو هوکړو موخو ته چې د آمو سیند اوبه تنظیموي، ژمنتیا نه لري؛ ځکه همدغه هوکړې پر عادلانه استفادې او د مساوي حقونو او مسئولیتونو پر مفهوم ټینگار کوي (Horsman, 2008)؛ خو د دغو هېوادونو داخلي قوانین او پالیسۍ بیا له دغه هوکړه‌لیک سره په تضاد کې روان دي.

د افغانستان د باندې پرېښودلو څلورم لامل د منځنۍ آسیا هېوادونو د سیمه‌ییزو –نیمه سیمه‌ییزو سازمانونو د غړو دولتونو شخصي گټې دي، چې نه غواړي موجوده سیستم تغییر کړي. مرکزي آسیا هېوادونه ټولې پریکړې د رایو پر اتفاق اخلي او که د رایو اتفاق موجود نه وي، هېڅ ډول تصمیم نه شي نیول کېدای. د افغانستان شمولیت ښایي د اوسنیو غړو منافعو ته، چې اوسنی مکانیزم یې په گټه دی، یوه ننگونه وي. د افغانستان غړیتوب کولای شي د دوی اوسنی حالت او په ځانگړې توگه د ښکته پرتو هېوادونو گټې وننگوي (Horsman, 2008).

پنځم لامل د پورته او ښکته پرتو هېوادونو تر منځ د اوبو د استفادې په اړه اختلاف دی. له آمو سیند څخه د گټې اخیستنې په تړاو دوه متفاوت رقابتي منافع شته دي. افغانستان او تاجکستان (پورته پراته هېوادونه) آمو سیند د آبي برېښنا او اوبو لگولو سرچینه بولي. خو ښکته پراته هېوادونه (ترکمنستان او ازبکستان) دې سیند ته په ټوله کې د پنبې او وریژو محصولاتو د خړوبولو د سرچینې په سترگه گوري. پورته پروت افغانستان او تاجکستان پلان لري چې د آبي برېښنا تولید پراخ کړي، او له همدې امله د دوی پلانونه ښایي له ښکته پرتو هېوادونو ترکمنستان او ازبکستان سره د شخړو لامل شي (Kamil, 2021).

## ۲-۳- افغانستان د آمو سیند له مدیریتي جوړښتونو څخه له ایستلو د بېرته داخلېدو تر هڅو

د قوشتېپې کانال پورتنۍ معادله تغییر کړې ده. د مرکزي آسیا هېوادونو او تر هغه وړاندې شوروي اتحاد، چې افغانستان یې د آمو پر سیند له موجودو حقوقي او مدیریتي جوړښتونو څخه د باندې پرې ایښی و، اوس چمتو دي چې له افغانستان سره د آمو سیند د اوبو د ګډ مدیریت په برخه کې په تخنیکي او لوړه کچه مذاکرات وکړي. په ۲۰۲۳ز کال (FDPM Afghanistan, 2023) او تر هغه وروسته په ۲۰۲۴ز کال (FDPM Afghanistan, 2024) کې د ازبکستان لوړپوړو چارواکو په کابل کې د افغانستان اسلامي امارت چارواکو ته وړاندیز وکړ، چې د قوشتېپې کانال په اړه افغانستان ورسره په تخنیکي کچه مذاکرات وکړي. همدا راز د ازبکستان جمهور رئیس شوکت میرضیایف د دغه کانال د جوړېدو د چارو تر پیلېدو څه موده وروسته ملت ته په وینا کې وویل، چې هېواد یې اوسمهال دا ډېره اړینه ګڼي، چې د آمو په سیندیزه حوزه کې د نوي کانال د جوړېدو په تړاو د افغانستان له موقت حکومت سره د نړیوالو معیارونو او د سیمې د ټولو هېوادونو د ګټو په نظر کې نیولو سره سم، خبرې اترې وکړي (Rickleton, 2023). همدا راز ترکمنستان هم له آمو سیند څخه د استفادې په اړه د عادلانه او معقولانه استفادې اصل په نظر کې نیولو سره پر یوه حقوقي سند خبرو اترو کولو وړاندیز کړی. افغانستان دغې مذاکرې ته آمادګي ښودلې خو تر دې دمه کوم د پاموړ پرمختګ نه دی شوی.

د مرکزي آسیا هېوادونو د څېړونکو نظر دا دی، چې د آمو سیند په مسیر کې د اوبو لګونې نوي تاسیسات او یو اړخیزه استفاده د دغو هېوادونو پر کرنې او اقتصاد خورا منفي اغېز غورځوي. د آمو سیند تقریبا ټولې اوبه په ازبکستان او ترکمنستان کې د کرنیزو موخو لپاره کارېږي او د قوشتېپې کانال به په دواړو هېوادونو کې د کرنې ظرفیت خورا راښکته کړي. د دوی په باور هغه میتودونه او تخنیکونه چې د دې کانال په جوړېدو کې کارول شوي خورا ابتدایي او زاړه دي، او اوس‌مهال د افغانستان د حکومت تمرکز یوازې د کانال پر ایستلو دی، پرته له دې چې د کانال څنډې او د بستر لاینینګ یې کانکریټي شي (Boltaev, 2024). پر دې سربېره، د کانال نه کانکریټي کېدل یو لوی خطر له ځان سره لري، ځکه د کانال نه کانکریټي کېدل د ډېرو اوبو د

ضایع کېدو یا seepage سبب کېږي. په کانالونو کې د اوبو ضایع کېدل د اوبو د مالګین کېدو ګواښ ډېر زیاتوي (Adylbekova, 2023).

د مرکزي آسیا د محققینو څېړنې تر ډېره په فرضیو ولاړې او سطحي دي او شاید اساسي لامل یې ارقامو او معلوماتو ته نه لاسرسی او له رسنیزو تبلیغاتو څخه اغېزمنېدل وي. همدا د دې دلیل کېدای شي چې دغه محققین په څېړنو کې غیرواقعبینانه ارقام او تحلیل وړاندې کوي.

مخکې تر دې چې د قوشتېپې کانال په تړاو مذاکراتو لپاره عملي او پایدارو لارو باندې بحث وشي، لاندې برخه د آمو پر سیند د اوبو د وېش په اړه موجود حقوقي چوکاټ چې افغانستان ترې ایستل شوی و، بحث کوي او تر هغه وروسته دا لیکنه پر دې بحث کوي، چې د قوشتېپې کانال په تړاو مذاکراتو لپاره عملي او پایداري لارې څه دي او ایا یوازې پر یاد کانال بحث ستونزه حلوي؟

## ٤- د آمو پر سیند موجود حقوقي رژیم

د آمو پر سیند دوه ډوله حقوقي رژیمونه حاکم دي. لومړی یې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد/روسیې تر منځ دي او دوهم ډول حقوقي رژیم د مرکزي آسیا هېوادونو تر منځ دي. د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد/روسیې تر منځ بیا سرحدي معاهدې دي چې د اوبو وېش نه تنظیموي. د مرکزي آسیا تر منځ بیا د اوبو د وېش او د اوبو د مدیریت معاهدې دي چې له مخې یې د آمو او سیر سیندونو اوبه مدیریت شوې دي. افغانستان له مرکزي آسیا سره د اوبو د وېش د معاهدو غړیتوب نه لري.

د آمو پر سیند لومړنۍ معاهده د روسیې او لویې برتانیې تر منځ په ۱۸۴۳ز کال کې شوې وه، چې له آمو سیند څخه د کښتۍ چلونې (navigation) او سوداګرۍ په موخه استفادې په اړه یې اصول وضع کړي وو. وروسته په ۱۸۷۲ او ۱۸۷۳ز کلونو کې د برتانیې او روسیې تر منځ او بیا په ۱۹۴۶ او ۱۹۵۸ز کلونو کې د افغانستان او روسیې/شوروي اتحاد تر منځ چې کومې معاهدې لاسلیک شوې دي، ټولې سرحدي معاهدې دي او پر آمو سیند تمرکز یوازې د نړیوال سرحد په توګه شوی دی. د ۱۹۴۶ او ۱۹۵۸ز کلونو سرحدي معاهدې تر دې دمه نافذې دي (Kamil, 2021).

د ۱۹۴۶ز کال د سرحدي معاهدې له مخې روسيې افغانستان ته ډاډ ورکړ چې د آمو پر سيند او همدارنگه د پياندژ (يا پنج) سيند د کښتنۍ چلولو وړ برخو کې د کښتنۍ چلولو حق لري. د دغه هوکړه‌ليک له مخې يو گډ کميسيون هم رامنځته شو او پتېيل شوې وه چې په منظمه توگه به ناستې لري، د سرحدي کرښې نقشه به جوړوي، د جزيرو ملکيت به معلوموي او په هغو ځايونو کې چې اړين وبلل شي، سرحدي پوستې به جوړوي. سربېره پر دې، يو رسمي يادښت چې د ۱۹۴۶ کال له تړون سره ضميمه و، افغانستان پر دې مکلف کړ چې له اوبو څخه د استفادې په اړه به اوسنۍ وضعيت (status quo) ساتي او له کُشک سيند څخه به د اوبو اخيستلو اندازه نه ډېروي. په دې يادښت کې دا ټينگار هم شوی چې شوروي اتحاد به د مرغاب پر سيند بند نه جوړوي او يا به د افغانستان د اړخ له څنډې کار نه اخلي. خو د شوروي اتحاد دغه مکلفيت د افغانستان پر دې تعهد پورې محدود و، چې افغانستان به په سرحدي سيمه کې بند نه جوړوي، ځکه د بند جوړېدل روسيې ته د سيند د اوبو جريان کموي. د ۱۹۵۸زکال تړون د ۱۹۴۶تړون په نسبت مفصل دی. د ۱۹۵۸ په معاهدې کې په نورو موضوعاتو سربېره، له سرحدي کرښې سره د نښلېدونکو سړکونو، کب نيونې، ښکار، کانونو استخراج او کرنې لپاره مشخص رژيم وضع شوی دی. د دغه تړون ۸مې مادې له سرحدي اوبو څخه د استفادې عمومي حق دواړو لورويو ته ورکړی؛ خو د اوبو د وېش موضوع يې يو جلا تړون ته پرې اېښې ده. د تړون ۱۶مه ماده وايي: «له هغو اوبو څخه د گټه اخيستنې اړوند مسايل چې له سرحدي اوبو سره وصل دي، بايد د تړون د لوريو تر منځ د يوه ځانگړي هوکړه‌ليک پر بنسټ سنبال شي.» د اوبو د وېش موضوع له دغه تړون څخه هغه مهال ځکه ايستل شوې، چې شوروي اتحاد نه غوښتل له افغانستان سره د اوبو د وېش لپاره حقوقي چوکاټ جوړ کړي؛ ځکه د يوه حقوقي چوکاټ په نشتون کې شوروي د کرنې او اوبو لگونې لپاره د پام وړ اندازه اوبه ترلاسه کولې.

افغانستان په ۱۹۷۷ز کال د آمو سيند د لوی معاون پنج د اوبو د وېش په تړاو له شوروي اتحاد سره مذاکرات وکړل، خو نتيجې ته ونه رسېدل. لامل يې دا و چې شوروي اتحاد په ياد سيند کې افغانستان ته يوازې ۶ ميلیارده متر مکعب اوبو حقابه ورکوله خو افغانستان بيا په ۹ ميليارد متر مکعب اوبو حقابې ټينگار کاوه (Wegerich D. W., 2009). دا چې افغانستان تر دې وروسته د شوروي تر مستقيم اشغال لاندې شو او وروسته افغانستان داخلي جگړو ته داخل شو، افغانستان

بیا له تاجکستان سره (د تېر رژیم پر مهال) د اوبو د ارقامو د شریکولو له تفاهم‌لیکونو پرته بل څه لاسلیک نه کړل.

بل لوري ته مرکزي آسیا هېوادونه بیا د امو سیند د اوبو د وېش په اړه مشخص حقوقي او مدیریتي میکانیزم لري. د آمو سیند د اوبو وېش تاریخ د ۱۹۸۰مو کلونو هغه غونډو ته ورگرځي، چې شوروي اتحاد وکړې او په نتیجه کې په ۱۹۸۷ز کال کې د ۵۶۶ پرتوکول تصویب کړ. دغه پرتوکول د تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او قیرغزستان د اوبو سهمیې معلومې کړې او د افغانستان په اړه یې داسې وړاندوینه وکړه چې دغه هېواد له آمو سیند څخه ۲,۱ میلیارد متر مکعب اوبو ته انحراف ورکولای شي. د شوروي اتحاد تر ړنگېدو وروسته مرکزي آسیا هېوادونو د آمو او سیر سیندونو د مدیریت په موخه د آلماتي په نوم هوکړه‌لیک لاسلیک کړ او هم یې د مدیریتي چارو د تنظیم په موخه مختلف سازمانونه ایجاد کړل. د آلماتي هوکړه‌لیک له مخې یادو هېوادونو د ۵۶۶ پرتوکول پر اساس وېشل شوې سهمیې تایید کړې او همدا راز د غړو هېوادونو پر برابرو حقونو او مسوولیتونو یې ټینگار وکړ. آلماتي هوکړې همدا راز د معلوماتو د شریکولو او د اوبیزو منابعو په برخه کې پر همکاریو ټینگار وکړ او د شخړو د حل و فصل په موخه یې یو مشخص میکانیزم رامنځته کړ.

د آلماتي هوکړه‌لیک تر څنگ ازبکستان او ترکمنستان په ۱۹۹۶ز کال کې دوه اړخیز هوکړه‌لیک لاسلیک کړ، چې له مخې یې له آمو سیند څخه د اوبو اخیستل بالمناصفه کړل (د ازبکستان او ترکمنستان تر منځ د اوبو مدیریت په اړه د همکارۍ هوکړه‌لیک ۱۹۹۶، ۶مه ماده). دغه هوکړه‌لیک تر ۲۰۲۲ز کال پورې نافذ و. په ۲۰۲۲ کې د مرکزي آسیا هېوادونو تر منځ په عشق اباد کې بل هوکړه‌لیک لاسلیک شو، چې له مخې یې د ۲۰۲۲ له اکتوبر څخه د ۲۰۲۳ تر اکتوبر پورې د اوبو اخیستل یو څه محدود کړل. د نوي هوکړه‌لیک له مخې ازبکستان (۲۳,۶ میلیارده متر مکعب)، ترکمنستان (۲۲ میلیارده متر مکعب) او تاجکستان (۹,۸ میلیارده مترمکعب) به په مجموعي ډول ۵۵,۴ میلیارده متر مکعب اوبه له آمو سیند څخه اخلي. تر دې ور اخوا دغو هېوادونو د آمو سیند د مدیریت لپاره یو شمېر اعلامیې او د تفاهم یادښتونو هم لاسلیک کړي دي.

## ۵- د قوشتېپې کانال او نړیوال حقوق

مخکې یادونه وشوه چې افغانستان د آمو پر سیند د اوبو وېش د هېڅ هوکړهلیک برخه نه و. افغانستان په هغو غونډو کې ګډون نه دی کړی چې په نتیجه کې شوروي اتحاد د آمو سیند اوبه د مرکزي آسیا هېوادونو تر منځ ووېشلې. وروسته کله چې آلماتي هوکړهلیک لاسلیکېده، مرکزي آسیا هېوادونو د اوبو د وېش او مدیریت په اړه د شوروي اتحاد لخوا په میراث ورپاتې ۵۶۶ پرتوکول تصویب کړ، چې افغانستان د دغه هوکړهلیک او پر اساس یې رامنځته شوو سازمانونو غړی نه و. دا چې افغانستان د آمو سیند د وېش په اړه د هېڅ هوکړهلیک برخه نه دی او کومه مشخصه معاهده هم نشته، په دې صورت کې د عرفي نړیوالو قوانینو اصول چې افغانستان یې دایمي معترض نه وي پاتې شوی (Thirlway, 2019) د قوشتېپې پر کانال تطبیقېږي.

لومړنی اصل د عادلانه او معقولانه استفادې اصل دی. دغه اصل د نړیوالو حقوقو عمومي اصل ګڼل کېږي چې د پوله تېرېدونکو اوبو په اړه د دولتونو حقوق او وجایب تعیینوي (UN, 1994). د عادلانه او معقولانه استفادې اصل د نړیوالو سیندونو له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کنوانسیون په ۵مه ماده کې هم تصویب شوی دی. پنځمه ماده په نړیوالو سیندونو کې شریکو دولتونو ته د دې حق ورکوي، چې په خپله خاوره کې له اوبو څخه معقوله او عادلانه استفاده وکړي. همدا راز دولتونو ته مکلفیت تعیینوي، چې له نړیوالو سیندونو څخه د استفادې، پرمختیا او ساتنې په برخه کې معقول او عادلانه ډول اشتراک وکړي. پنځمه ماده له یوې خوا د هېوادونو له خپلو سیندونو څخه د استفادې حق په رسمیت پېژني، له بلې خوا له ټولو هېوادونو غواړي چې د اوبو د کارونې په وخت کې د عادلانه او معقولې کارونې معیار خامخا په نظر کې ونیسي. د دغه کنوانسیون شپږمې مادې بیا هغه فکتورونه یا عوامل یاد کړي چې د عادلانه او معقولانه استفادې د تعیین پر مهال باید په نظر کې ونیول شي. په دغو فکتورونو کې جغرافیایي، هایدروګرافي، هایدرولوژیکي، اقلیمي، چاپېریالي او د حوزې نورو طبیعي عواملو پورې اړوند شرایط؛ د اړوندو هېوادونو ټولنیز او اقتصادي شرایط؛ د حوزې اړوند هېوادونو کې اوبو پورې تړلې جمعیت یا نفوس؛ د حوزې په مسیر کې د یوه هېواد له لوري له اوبو څخه د ګټې اخیستنې اثرات پر بل هېواد؛ موجوده او پخوانۍ ګټې اخیستنې؛ حفاظت، ساتنه، د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو څخه د ګټه اخیستنې پراختیا او اقتصاد او د دې موخې لپاره له اوبو څخه د ګټې اخیستنې

بیه او د موجوده ګټې اخیستنې او پلان شوې هغې ترمنځ د ارزښت له پرتلنې وروسته ځایناستي‌والی، شامل دي. دوهم اصل چې د عرفي نړیوال قانون برخه دی او د نړیوالو سیندونو په اړه تطبیقیږي، د پام وړ ضرر نه رسولو اصل دی. د ضرر نه رسولو اصل په شریکو سیندونو کې له دولتونو څخه غواړي چې اوبه داسې ونه کاروي چې بل لوري ته ترې د پام وړ ضرر ورسېږي. د پام وړ ضرر نه رسولو اصل د ۱۹۹۷ کنوانسیون په ۷مه ماده کې تصویب شوی دی.

د عادلانه او معقولانه استفادې اصل دولتونو ته له شریکو سیندونو څخه د استفادې برابر حق ورکوي او دا په دې معنا ده چې هغه هېوادونه چې له پرمختګ پاتې دي، نوې استفاده یې د ضرر رسولو د اصل نقض نه ده. په واقعیت کې دا اصل په شریکو سیندونو کې دولتونو ته د عادلانه او معقولانه استفادې حق ورکوي. افغانستان د پورته پراته او ناوخته پراختیا-کوونکي (late developers) هېواد په توګه چې د څو لسیزو جګړو له کبله یې له آمو سیند څخه استفاده نه ده کړې، کولای شي په دغه سیند کې نوې استفادې پیل کړي؛ لکه د بندونو او کانالونو جوړول او یا د کرنې لپاره اوبو ته انحراف ورکول. البته شرط دا دی چې دغه استفاده به د عادلانه او معقولانه استفادې له اصل سره په مطابقت کې وي. له دغه اصل سره له مطابقت وروسته که دغه استفاده ښکته پرتو هېوادونو ته ضرر هم رسوي، د نړیوالو حقوقو نقض نه ګڼل کېږي (McCaffrey, 2007). نړیوال بانک هم د پورته پروت او ښکته پرتو هېوادونو نظریه نه مني، او پالیسي یې په سیندونو کې شریکو ټولو هېوادونو باندې تطبیقیږي. له همدې کبله پورته او ښکته پراته ټول هېوادونه چې په سیند کې شریک دي، مکلف دي چې د ټولو پلان شوو پروژو رسمي خبرتیا یو بل ته ورکړي. له همدې کبله د مرکزي آسیا هېوادونه مکلف وو، چې د ټولو هغو پروژو چې په تېرو څو لسیزو کې یې پر آمو سیند تطبیق کړې وې، افغانستان ته رسمي خبرتیا ورکړې وی، ځکه د دغو هېوادونو دا پروژې د افغانستان راتلونکې استفاده ممکن بنده کړې وه او په پایله کې یې ضرر ور رسولی و.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا یوازې پورته پراته هېوادونه ښکته پرتو هېوادونو ته ضرر رسوي؟ عموما فکر همداسې دی، چې یوازې پورته هېوادونه ښکته پرتو هېوادونو ته ضرر رسوي (Salman, 2010). د همدې فرضیې پر اساس د ضرر نه رسولو اصل یوازې او یوازې د پورته پرتو هېوادونو

لپاره وجایب ایجادوي. دا یو واقعیت دی، چې پورته پراته هېوادونه ښکته پرتو هېوادونو ته له مختلفو لارو څخه ضرر رسولای شي، لکه د اوبو ککړول، د بندونو یا کانالونو جوړول چې ورسره له شریک سیند څخه اوبو ته انحراف ورکړي او د اوبو جریان کم کړي او یا هم د سیند د ایکولوژي د ساتنې لپاره کمې مناسبې اوبه پرېنږدي. پر دې سربېره، د ضرر نه رسولو اصل داسې معلومېږي چې ډېرې وجایب د پورته پرتو هېوادونو لپاره ایجادوي او ښکته پرتو هېوادونو ته ډېر حقوق ورکوي (McCaffrey, 2007). خو دغه فکر چې یوازې پورته پراته هېوادونه ضرر رسولای شي، د ضرر نه رسولو اصل څخه یو ناسم فهم دی (Salman, 2010). ښکته پراته هېوادونه هم پورته پرتو هېوادونو ته ضرر رسولای شي. د مثال پر ډول، ښکته پراته هېوادونه خپله استفاده دومره زیاته کړي چې له کبله یې د پورته پرتو هېوادونو چې د مختلفو عواملو له کبله یې له اوبو څخه استفاده نه وي کړې، اینده استفاده بنده کړي، څکه دغه هېوادونه د خپلې تاریخي یا پخوانۍ استفادې پر اساس د حقابې غوښتنه کوي چې په پایله کې دغه پخوانۍ استفاده د یوه ناوخته-پراختیا-کوونکي هېواد راتلونکې حقابه بنده کړي. د یوه هېواد اینده حقابې بندول (foreclosing future use) د دغه هېواد استفادې ته ضرر رسول دي، چې د ځینو نړیوالو حقوق پوهانو په وینا د ضرر نه رسولو اصل نقض دی (Salman, 2010).

د نیل سیندیزه حوزه کې د شریکو هېوادونو اوبو استفاده د دې یو ښه مثال دی. مصر او سودان په دغه سیند کې د دوی پر تاریخي حقابې استدلال کوي او له همدې کبله د ایتوپیا د رینسانس بند د جوړېدو مقابل کې دوامداره توند اعتراض ښیي (Wehling, 2020). د مصر استدلال د استعمار پر مهال لاسلیک شوي د ۱۹۲۹ او ۱۹۵۹ هوکړهلیکونه دي چې له مخې یې پورته پراته هېوادونه نشي کولای چې لویې زېربنایي پروژې د نیل پر سیند جوړې کړي(Carroll, 1999) . د ۱۹۲۹ هوکړهلیک د ۴مې مادې ۳مې فقرې له مخې پورته پراته هېوادونه د مصر حکومت له رضایت پرته هېڅ ډول د اوبو لګونې او یا هم د برېښنا د تولید چارې د نیل یا د دغه سیند پر معاونینو نه شي پیلولای. د مصر استدلال دا دی چې د ۱۹۲۹ز کال هوکړهلیک اوس هم نافذ دی او د برتانیې تر استعمار لاندې د ختیځې افریقا هېوادونه مکلف دي چې د نړیوالې جانیشینۍ (Universal succession) د تیوري پر اساس دغه تړون تطبیق کړي (Tekuya, 2020). پر همدې اساس مصر استدلال کوي، چې د ۱۹۲۹ هوکړهلیک له مخې باید پورته پراته هېوادونه د

ټولو هغه پروژو چې پر دغه سیند یې تطبیقوي، لومړی باید د دغه هېواد رضایت ترلاسه کړي. د ۱۹۵۹ز کال هوکړه‌لیک له مخې بیا د نیل سیند اوبه پرته له دې چې پورته پرتو هېوادونو استفاده او حقابه په نظر کې ونیول شي، مصر او سودان په خپل منځ کې ووېشلې. تر ټولو مهمه دا چې د دغو هوکړه‌لیکونو له مخې ښکته پروت مصر د دې اړتیا نه لري چې د اوبیزو پروژو د تطبیق په موخه د پورته پرتو هېوادونو رضایت ترلاسه کړي، او مصر د دې حق لري چې پورته پرتو هېوادونو کې د اوبو هره زېربنایي پروژه ویټو/رد کړي. دغه هوکړه‌لیکونه په واقعیت کې د ایتوپیا، چې د دغه سیند ۸۰ سلنه اوبه تولیدوي، اوسنۍ او اینده استفادې مخه نیسي.

که څه هم د مرکزي آسیا هېوادونه په آمو سیند کې د افغانستان حقابه مني، خو ستونزه په دې کې ده چې په دغه سیند کې د افغانستان د حقابې اندازه څومره ده؟ یا افغانستان څومره اوبه له دغه سیند څخه انحرافولای شي، دا که د قوشتېپې یا بل انحرافي کانال او یا هم د کوم ذخیروي بند له لارې وي. دغه موضوع شاید په راتلونکي کې د افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونو تر منځ پر یوه کړکېچ بدله شي.

پر دې سربېره، د افغانستان ممکنه موقف شاید دا وي چې د قوشتېپې کانال له لارې د ابیارۍ لپاره له آمو سیند څخه د اوبو انحراف د افغانستان نوې استفاده نه ده، بلکې افغانستان د دغه کانال په جوړولو سره پخوانۍ استفاده بیا احیاء کوي. دغه کانال چې په ۱۹۷۰مو کلونو کې پلان شوی و، هدف یې دا دی چې په آمو سیند کې د افغانستان معقولانه او عادلانه استفاده، چې له څو لسیزو راهیسې پاتې وه، بیا احیاء کړي؛ نه دا چې کومه نوې استفاده پیل کړي. پر دې سربېره د عرفي نړیوالو قوانینو اصول په افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونو تطبیقیږي. له همدې کبله د مرکزي آسیا هېوادونو استفاده هم باید معقولانه او عادلانه وي. د مرکزي آسیا هېوادونه مکلف دي چې د دغه اصل تر څنګ د ضرر نه رسولو اصل او همدا راز د خبرتیا ورکولو مکلفیت اصل (duty to notify) سره سم له افغانستان سره د ټولو هغه بندونو، سربندونو، کانالونو او نورو آبي زېربنایي پروژو په اړه معلومات شریک کړي (چې تر دې دمه یې نه دي شریک کړي) چې د آمو پر مشترکه سیندیزه حوزه تاسیس شوي دي. که مرکزي آسیا هېوادونه دغه چاره نه ترسره کوي، او یوازې له افغانستان څخه غواړي چې خپله استفاده کمه کړي یا پرې خپل شرایط ومني،

دغه یو اړخیزه چاره بیا هېڅ حقوقي اساس نه لري. وروستی موضوع دا ده چې د ضرر نه رسولو اصل جدي یا تحت لفظي تطبیق داسې یو حالت رامنځته کوي چې هر ناوخته-پراختیا-کوونکي (late developer) هېواد (لکه افغانستان) نوې استفاده به د دغه اصل نقض وي، ځکه هره نوې استفاده به د ښکته پرتو هېوادونو استفادې ته ضرر رسوي. دغه ډول تفسیر نه دولتونو په عمل کې تطبیق کړی نه د نړیوالو محاکمو داسې تفسیر وړاندې کړی دی.

د یادونې وړ ده چې افغانستان که څه هم د پنج آمو سیندیزې حوزې یو له مهمو اوبو تولیدوونکو څخه دی؛ خو سربېره پر دې له دغه سیندیزې حوزې د سیاسي تحولاتو او اقتصادي ستونزو له کبله ډېره کمه برخه استفاده کوي/کړې ده. ازبکستان او ترکمنستان چې د آمو سیندیزې حوزې خورا کمې اوبه تولیدوي خو؛ له دغه سیندیزې حوزې شاوخوا ٪۸۰اوبه استفاده کوي (Gazeta, 2023) (Umirbekov, Akhmetov, & Gafurov, 2022). همدا راز ازبکستان او ترکمنستان پرته له دې چې د پورته پرتو هېوادونو (upstream states) اوبیزې اړتیاوې په نظر کې ونیسي او په شریکه سیندیزه حوزه کې مشترکو هېوادونو سره د نړیوالو حقوقو منل شویو اصولو په رڼا کې معلومات شریک (information exchange) او خبر (notification) ورکړي، خپلې زراعتي ځمکې خورا زیاتې پراخې کړې دي. ازبکستان ٪۹۰ د اوبو سرچینې په کرنې مصرفوي چې د دغه هېواد ٪۲۸ نا خالص داخلي تولید تشکیلوي. په ۲۰۲۲ز کال کې ازبکستان د سیر او آمو سیندیزو حوزو څخه په مجموعي ډول ۳۹ میلیارده متر مکعب اوبه مصرف کړې وې، چې د دغه هېواد د مسوولینو په وینا ۳۶ سلنه اوبه (۱۴ میلیارده متر مکعب) یې له دې کبله ضایع شوې دي، چې د کانالونو بستر یې کانکریټي نه دی. پر دې سربېره، ازبکستان تر اوبو لګونې لاندې ځمکې اوس هغه هم پخواني میتود او ټکنالوژۍ استفاده کوي چې د اوبو لګونې لپاره خورا له زړې دي. له همدې کبله د اوبو لګونې دغه پخواني او عرفي سیستمونه د دې سبب شوي چې ازبکستان له ۵ تر ۶ میلیارده متر مکعب اوبه هر کال ضایع کړي (Gazeta, 2023). بل لوري ته د ترکمنستان تر ټولو ډېره تکیه د آمو او مرغاب پر سیندونو ده. د قراقوم کانال د آمو له سیند څخه هر کال له ۱۰ تر ۱۲ میلیارد متر مکعب اوبه اخلي. ترکمنستان دغه لوی کانال چې آمو سیند یې تر ټولو لویه منبع ده، افغانستان ته له خبر ورکولو او رضایت ترلاسه کولو پرته جوړ کړی دی. دوهم لوی سیند چې دغه هېواد پرې تکیه دی د مرغاب سیند دی چې په اوسط ډول ۵۰,۴

متر مکعب اوبه في ثانیه لري. دغه سیند ټول د اوبو جریان ۱,۶۹ میلیارده متر مکعب اټکل شوی دی. د قراقوم کانال او نور کوچني کانالونه (۶،۲۷۸ کیلومتره تشکیلوي)، ٪۹۰ د کرنې شبکه (۳۰،۳۷۹ کیلومتره تشکیلوي) ټولو بستر خاوره ده او کانکریټي نه دی جوړ شوی، چې له کبله یې د ۵۰-۶۰ سلنه پورې اوبه ضایع کېږي. همدا راز د دغه هېواد د رسمي ارقامو له مخې په اوبو لګونې کې شاوخوا ۶,۳ میلیارده متره مکعب اوبه ضایع کېږي. سربېره پر دې، ٪۹۹ اوبو لګونه (آبیاري) د ویالو له لارې کېږي چې دغه هم د دې سبب کېږي چې ۵,۷ میلیارده متر مکعب اوبه د تبخیر او فلټریشن له کبله ضایع شي (Orlovsky & Orlovsky, 2002).

پورتنۍ شمېرې څکه دلته راوړل شوې، چې که په قوشتېپې کانال له مرکزي آسیا هېوادونو سره خبرې اترې کېږي، د دغو هېوادونو کانالونه، د اوبو لګونې سیستمونه او د اوبو ضایعات هم باید د مذاکراتو د اجنډا برخه وي. څکه څېړنې ښیي، چې د قراقوم شاوخوا ۱۳۰۰ کیلومتره غیرکانکریټي کانال خورا زیاتې اوبه ځمکې ته جذب او تبخیر کېږي. که د قوشتېپې کانال د کانکریټي جوړېدو موضوع مطرح کېږي، یا یې د ابعادو پر کمولو خبرې اترې کېږي، لومړی مکلفیت ازبکستان او ترکمنستان لري، چې خپل د اوبو لګونې سیستمونه پر نوې ټکنالوژۍ سنبال او همدا راز کانالونه کانکریټي کړي څو د اوبو د ضایع کېدو مخه ونیول شي.

## ٦- پر قوشتېپې کانال مذاکرات

پوښتنه دا ده چې اوسنیو شرایطو کې یوازې د قوشتېپې پر کانال د مرکزي آسیا له هېوادونو په ځانګړي ډول ازبکستان او ترکمنستان سره مذاکرات ستونزه حلوي؟ د دې څېړنې فرضیه په دې اړه منفي ده. د څېړنې موندنې دا دي چې له مرکزي آسیا هېوادونو سره یوازې د قوشتېپې پر کانال خبرې اترې نه د افغانستان په ګټه دي او نه هم دا ډول مذاکرات موضوع ته یو پایداره دایمي حل راوباسي. له همدې کبله دا څېړنه دوه مشخص وړاندیزونه کوي.

لومړی دا چې د آمو په سیند کې تر ټولو اساسي موضوع د افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونو د حقابو ده. د اوبو هغه وېش چې شوروي اتحاد کړی و او د افغانستان برخه یې ۲,۱ میلیارد متر مکعب فرض کړې وه او وروسته همدغه وېش مرکزي آسیا هېوادونو د آلماتي هوکړه‌لیک له لارې تصویب کړ، تعدیل ته اړتیا لري، څو د افغانستان غوښتنې په کې ځای پر ځای شي.

افغانستان د اوبو د مدیریت له هغه میکانیزمونو سره ممکن موافقه ونه کړي چې د شوروي اتحاد د اشغال پر مهال شوي دي او د افغانستان رضا په کې شامله نه وه. دغه موقف د معاهداتو په اړه د ویانا کنوانسیون د ۳۴مې مادې مطابق هم دی چې له مخې یې دولتونه د درېیم فریق لپاره حقوق او وجایب نه شي ایجادولای (VCLT, 1969). پر همدې اساس هغه هېوادونه چې په آمو سیند کې شریک دي، باید د حقابو د تعیین د مذاکراتو برخه وي. له ازبکستان او یا هم له ترکمنستان سره پر حقابې خبرې اترې ستونزه نه حل کوي. نه هم دا ستونزه حل کوي چې افغانستان د مرکزي آسیا هېوادونو سره بیل بیل مذاکرات وکړي، ځکه د دې قوي احتمال شته چې ممکن دغه توافقات په سیند کې شریک یو بل هېواد ته د منلو وړ نه وي. د مشترکو مذاکرتو د ترسره کولو لپاره بل عمده دلیل دا دی چې د پورته پروت تاجکستان حقابه او له آمو سیند څخه یې استفاده هم باید تنظیم او کنترول شي. تاجکستان که څه هم د آمو سیند څخه د کرنیزو مقاصدو لپاره ډېره ګټه نه اخلي، خو د انرژۍ تولید برخه کې دا هېواد د آمو پر سیند د برېښنا بندونو د کاسکېډ جوړولو په تکل کې دی، چې ښه بېلګه یې د نورک او راغون بندونه دي. دغه بندونه د وخش سیند د اوبو پر جریان او د تنظیم پر رژیم اغېز کوي چې په دې سره د وخش سیند د کرنې په موسم کې د استفادې وړ نه وي. په هغه موسمونو کې چې اوبه د کرنې لپاره باید له بند څخه پرېښودل شي، دغه هېواد به یې د برېښنا د تولید په موخه اینده لپاره زېرمه کوي او په هغو موسمونو کې چې د کرنې لپاره اوبو ته اړتیا نه وي، دغه هېواد به اوبه له دې کبله چې برېښنا تولید کړي، ښکته خواته پرېږدي. پر همدې اساس د ښکته پرتو هېوادونو تر څنګ باید پورته پروت هېواد هم باید د مذاکراتو برخه وي او په مشترک ډول د ټولو هېوادونو حقابې د عادلانه او معقولانه استفادې او ضرر نه رسولو اصل سره سم تعیین شي.

دوهم دا چې افغانستان باید د آمو پر ټوله سیندیزې حوزې او د آمو په سیند کې د افغانستان د حقابې په اړه مذاکرات وکړي، ځکه د حقابې موضوع د قوشتېپې کانال او نور هر ډول اوبیزو زېربناو د جوړېدو موضوع حل و فصل کوي، خو؛ یوازې پر قوشتېپې کانال بحث او مذاکره موضوع ته پایداره حل نه راوباسي. قوشتېپې کانال څخه د اوبو اخیستل د افغانستان د حقابې یو جزئي بحث دی. که د حقابې موضوع حل و فصل شي، د قوشتېپې کانال له لارې د آمو سیند څخه د اوبو اخیستلو موضوع ورسره خپله حل کېږي. همدا راز د آمو په سیند کې افغانستان

حقابه د دغه سیند له معاوینو څخه د نورو استفادو لکه د ذخیروي او د برېښنا د تولید بندونه، د صنعت لپاره د اوبو استفاده او همدا راز د نورو کانالونو د جوړولو موضوع ته هم د حل لارې راوباسي.

**۷- پایله**

د قوشتېپې کانال جوړول د نړیوالو حقوقو او سیمه‌ییزو همکاریو په چوکاټ کې یوه پېچلې سیناریو وړاندې کوي. افغانستان هڅې کوي چې د معقولانه او عادلانه استفادې او د پام وړ ضرر نه رسولو اصولو په رڼا کې په آمو سیند کې خپل استفاده بیا احیاء کړي. دغو هڅو ښکته پراته هېوادونه په ځانګړې ډول ازبکستان او ترکمنستان چې د آمو پر سیند یې خورا زیاته تکیه ده اندېښمن کړي دي.

د آمو په سیند کې د افغانستان د حقابې تامین په داسې بڼه چې مرکزي آسیا هېوادونو برحاله استفادې ته ترې د پام وړ ضرر ونه رسېږي یو پېچلی کار دی. دلته له یوې خوا د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ څخه پاتې افغانستان ګټې باید تضمین شي څو دغه هېواد چې له یوې اوږدې جګړې وروسته یې د ارام ساه اخیستې، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ وکړي او په عین حال کې دغه نوې استفاده مرکزي آسیا هېوادونو ته پام‌وړ ضرر ونه رسوي. دغه توازن ساتل خورا ستونزمن دي، خو ممکن دي. له همدې کبله دا څېړنه وړاندیز کوي چې افغانستان او مرکزي آسیا په ټولیز ډول په آمو سیند کې د نړیوالو اصولو په رڼا کې پر حقابو مذاکرات وکړي. د څېړنې موندنې دا دي چې یوازې د قوشتېپې پر کانال بحث او مذاکره اساسي او پایداره حل نه دی. قوشتېپې کانال د افغانستان د حقابې جزئي بحث دی، ځکه نو اړتیا ده چې له مرکزي آسیا هېوادونو سره پر کلیاتو، چې هغه د آمو په سیند کې د افغانستان حقابه ده، بحث او مذاکره وشي. پر دې سربېره پر دې ټینګار کول چې د پورته پروت هېواد په توګه د افغانستان هره استفاده ښکته پراته هېوادونو حقوقي ساتل شوې استفادې ته ضرر رسوي، د اوبو د مدیریت په برخه کې د همکارۍ او پرمختګ مخنیوی کوي. پر همدې موخه افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونه باید اوبه د سیمه‌ییزو همکاریو د وسیلې په توګه استفاده کړي نه دا چې دا د هېوادونو تر منځ د شخړو سرچینه وګرځي.

د دې لپاره چې په آمو سیند کې د ټولو هېوادونو ګټې خوندي وي، اړینه ده چې ټول لوري تر خپل منځ شفافې خبرې اترې وکړي او د یو بل حقونو او ګټو ته درناوی وکړي، ترڅو په سیمه کې د اوبو مدیریت په پایداره او اوږدمهاله توګه تضمین شي.

## ماخذونه

Adylbekova, K. (2023, 07 22). Water Crisis Looming: Uzbekistan and Turkmenistan's Imperative for The Grand Afghan Canal. Retrieved from https://cabar.asia/en/water-crisis-looming-uzbekistan-and-turkmenistan-s-imperative-for-the-grand-afghan-canal

Agreement between the Republic of Kazakhstan, the Kyrgyz Republic, the Republic of Tajikistan, Turkmenistan and the Republic of Uzbekistan on Cooperation in the Field of Joint Management on Utilization and Protection of Water Resources from Interstate Sou. (1992, February 18). Alma-Ata. Retrieved from http://www.cawater-info.net/library/eng/l/ca_cooperation.pdf

Agreement Between the Republic of Sudan and the United Arab Republic Egypt on the Full Utilization of the Waters of the Nile 453 UNTS 6519. (1959, November 8). Cairo.

Agreement between the Republic of Uzbekistan and Turkmenistan on cooperation on water management questions. (1992, January 16). Chardzhev .

Ahmad, M., & Wasiq, M. (2004). *Water Resources Development in Northern Afghanistan and its Implications for Amu Darya Basin.* Washington, D.C.: No 36. World Bank Publications. doi:https://doi.org/10.1596/0-8213-5890-1

Bakyt Ibraimov, F. A. (2023). *'A lot of work for diplomats' in Central Asia as the Taliban build huge canal.* The Third Pole. Retrieved 05 21, 2024, from https://dialogue.earth/en/water/a-lot-of-work-for-diplomats-as-taliban-build-qosh-tepa-canal/

Behzod, G., Su, C. C., & Dilmurod, G. (2012). Changes in Water Volume of the Aral Sea After 1960. *Applied Water Science, 2*, 285-291.

Boltaev, H. (2024). Qush-Tepa Canal - Taliban's Bargaining Chip? In H. Boltaev (Ed.), *Afghanistan: Contemporary Development and Alternative Perspectives* (pp. 34-41). Tashkent: IAIS.

Carroll, C. M. (1999). Past and Future Legal Framework of the Nile River Basin. *The Georgetown Int'l Envtl. Law Review, 12*(1), 269-304.

Convention on the Law of the Non-Navigational Uses of International Watercourses 2999 UNTS 77. (1997). Retrieved from https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%202999/v2999.pdf

Environmental Justice Foundation. (2005). *Gold, White. "The True Cost of Cotton. Uzbekistan, Cotton and the Crushing of a Nation.* London. Retrieved from https://ejfoundation.org/resources/downloads/white_gold_the_true_cost_of_cotton.pdf

Exchange of notes between Great Britain and Northern Ireland and Egypt regarding the use of the waters of the River Nile for irrigation purposes. (1929, May 7). Cairo. Retrieved from https://treaties.fcdo.gov.uk/awweb/pdfopener?md=1&did=64266

FDPM Afghanistan. (2023, March 22). Retrieved from https://twitter.com/fdpm_afg/status/1638537659403448321?s=46&t=V_rfCMCqS8n0EpdQyaCA_g
FDPM Afghanistan. (2024, March 12). Kabul. Retrieved from https://twitter.com/FDPM_AFG/status/1767540128400990501
Frontier Agreement between Afghanistan and the Union of Soviet Socialist Republic (including Exchange of Notes) 31 UNTS 158. (1946). Retrieved from https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%2031/v31.pdf
Gazeta. (2023, October 23). *Gazeta*. Retrieved from https://www.gazeta.uz/ru/2023/10/23/water/
Glantz, M. H. (1999). Sustainable Development and Creeping Environmental Problems in the Aral Sea Region. In M. H. Glantz, *Creeping Environmental Problems and Sustainable Development in the Aral Sea Basin* (pp. 1-25). Cambridge: CUP.
Gleick, P. H. (1993). Water and Conflict: Fresh Water Resources and International Security. *International Security*, 79-112. doi:https://doi.org/10.2307/2539033
Horsman, S. (2008). Afghanistan and Transboundary Water Management on the Amu Darya: A Political History. In M. M. Rahman, & Olli Varis (Eds.), *Central Asian Waters: Social, Economic, Environmental and Governance Puzzle* (pp. 63-74). Helsinki University of Technology .
Ilkhamov, A. (2023). Implications for Uzbekistan's Water Supply of Qosh Tepa Canal Construction in Afghanistan. *CADD*, 1-13. Retrieved from https://cenasiaduediligence.uk/wp-content/uploads/2024/02/Ilkhamov-Qosh-Tepa-Uzb-Water-Supply-Eng.pdf
Julia , B., Irina , K., Julian , L., Mark , L., Monica, S., & Thurman, M. (2003). *Irrigattion in Central Asia - Social, Economic and Environmental Considrations.* The World Bank.
Kamil, I. (2021). Afghanistan, the Amu Darya Basin and Regional Treaties. *Chinese Journal of Environmental Law, 5*(2), 37-62. Retrieved from https://doi.org/10.1163/24686042-12340063
Kamil, I. (2023, May 04). The Qosh Tepeh Canal and Afghanistan's Water Right in Amu Darya. Retrieved May 28, 2024, from http://opiniojuris.org/2023/05/04/the-qosh-tepeh-canal-and-afghanistans-water-right-in-amu-darya/
Kemelova, D., & Zhalkubaev, G. (2003). Water, Conflict, and Regional Security in Central Asia Revisited. *N.Y.U. Environmental Law Journal, 11*, 479-502.
McCaffrey, S. C. (2007). Some Developments in the Law of International Watercourses. In M. G. Kohen, *Promoting Justice, Human Rights, and Conflict Resolution through International Law* (pp. 781–798). Leiden, The Netherlands: Brill | Nijhoff. doi:https://doi.org/10.1163/ej.9789004153837.i-1236.235
Micklin, P. P. (1988). Desiccation of the Aral Sea: A Water Management Disaster in the Soviet Union. *Science, 241*, 1070-1076. doi:doi:10.1126/science.241.4870.1170

O'Hara , S. L. (2000). Central Asia's Water Resources: Contemporary and Future Management Issues. *International Journal of Water Resources Development , 16*(3), 423-441.
Orlovsky, N., & Orlovsky, L. (2002). Water resources of Turkmenistan: Use and conservation. *Workshop on Water, Climate, and Development Issues in the Amu Darya Basin*, (p. 19). Philadelphia.
Protocol 566: Improvement of the Scheme on Complex Use and Protection of Amu-Darya Water Resources by Scientific & Technical Council, Ministry of Land Reclamation and Water. (1987).
Protocol on Delimitation. (1885).
Rickleton, C. (2023). *'Not A Problem But A Disaster': Afghan Canal A Test For Taliban Ties In Water-Stressed Central Asia.* RFERL. Retrieved from https://www.rferl.org/a/afghanistan-taliban-canal-water-central-asia/32350996.html
Salehie, O., Ismail, T. b., Shahid, S., Hamed, M. M., Chinnasamy, P., & Wang, X. (2022). Assessment of Water Resources Availability in Amu Darya River Basin Using GRACE Data. *Water, 14*(4), 533-548. doi:https://doi.org/10.3390/w14040533
Salman, S. M. (2010). Downstream riparians can also harm upstream riparians: the concept of foreclosure of future uses. *Water International*, 350-364. doi:10.1080/02508060.2010.508160
Spoor, M., & Krutov, A. (2003). The Power of Water in a Divided Central Asia. *Perspectives on Global Development and Technology, 10*(3), 593-614.
Tekuya, M. (2020). The Egyptian Hydro-Hegemony in the Nile Basin: The Quest for Changing the Status Quo. *The Journal of Water Law, 26*(2), 10-20.
Thirlway, H. (2019). *The Sources of International Law* (2nd ed.). Oxford: OUP.
Treaty between the Government of the USSR and the Royal Government of Afghanistan Concerning the Regime of the Soviet-Afghanistan State Frontier (with annexes and Protocols) 321 UNTS 166. (1958). Retrieved from https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%20321/v321.pdf
Treaty of Commerce and Navigation. (1843).
Umirbekov, A., Akhmetov, A., & Gafurov, Z. (2022). *Water–agriculture–energy nexus in Central Asia through the lens of climate change.* Urumqi: CAREC Institute. Retrieved May 22, 2024, from https://cgspace.cgiar.org/server/api/core/bitstreams/0dc85145-565c-408b-9bc7-bb04c12de06b/content
UN. (1994). Draft Articles on the Law of the Non-navigational Uses of International Watercourses and Commentaries thereto and Resolution on Transboundary Confined Groundwater. In *Yearbook of the International Law Commission, 1994* (Vol. II Part Two, pp. 89-135). New York: UN Publications. Retrieved from https://legal.un.org/ilc/texts/instruments/english/commentaries/8_3_1994.pdf

Vienna Convention on the Law of Treaties. (1969, May 23). *1155*. Vienna. Retrieved May 2024, 22, from https://legal.un.org/ilc/texts/instruments/english/conventions/1_1_1969.pdf

Wegerich, D. W. (2009). The Three Blind Spots of Afghanistan: Water Flow, Irrigation Development, and the Impact of Climate Change. *China and Eurasia Forum Quarterly, 7*(4), 115-133. Retrieved May 22, 2024, from https://www.weap21.org/downloads/Afghanistan.pdf

Wegerich, K. (2008). Hydro-hegemony in the Amu Darya Basin. *Water Policy, 10*(2), 71-88.

Wegerich, K. (2009). The New Great Game: Water Allocation in Post-Soviet Central Asia. *Georgetown Journal of International Affairs, 10*(2), 117-123.

Wehling, P. (2020). *Nile Water Rights: An International Law Perspective.* Springer.

Whish-Wilson, P. (2002). The Aral Sea environmental health crisis. *Journal of Rural and Remote Environmental Health, 1*(2), 29-34.

فهیم, ن. ا .۲۰۱۷ .*نظام حقوقی حاکم بر رودخانه آمو*. لومړی . کابل: د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز.